محمد هارون خپل شعشعي


۲۶ اگست ۲۰۱۱

## د
## علي محمد مُخلِص
## عرفاني فرهنګ
## د
## محمد هارون خپل شعشعي
## ليکنه او څېړنه
## ۲

### ۲- علي محمد مُخلِص څوک وُ؟

د زماني لوړو او ژورو د پښتو د فکور عرفاني شاعر، علي محمد مُخلِص، د ژوند او شاعرۍ کيسه تر ډېرو وختو پوري د ګُمنامی او ابهام په پردو کي پيچلي وه . د مُخلِص د پښتو شعرو غني ديوان او په پاړسي ژبه د هغه د عارفانه کلام او خواږه نثر ارزښتناک اثر (حالنامه) تر ډېري زماني د شاعرانو، ليکوالو او مؤرخانو له پامه ليري ساتل سوي وه . له همدې امله، د پښتو ژبي او ادبياتو ځينو مخکښو بهرنيو څېړونکو هم په خپلو آثاروکي د علي محمد مُخلِص د ژوندانه او ژوري عرفاني شاعرۍ په باب هيڅ مالومات نه دي وړاندي کړي . د پښتو ادبياتو افغاني مؤرخانو، د ځينو شاعرانو په شعري ديوانو او ځينو تاريخي آثارو کي، د «مُخلِص» د نامه په ليدو سره په يوه او بله بڼه ګومان کاوه، چي علي محمدمُخلِص به د ملا ارزاني خېشکي ورور (ملا علي روښاني) يي، چي د اخون درويزه ننګرهاري (په ۱۰۲۸هـ ق کـــي مړ) په «تذکرة الابرار و اشرار» کي يي يادونه سوي ده . خير، مفکر عرفاني شاعر، علي محمد مُخلِص، تر ډېرو اوږدو زمانو وروسته، هغه مهال په خپله سمه او رېښتيني بڼه و پېژندل سو، چي د لندن په بريټيش کتابتون کي د هغه د پښتو شاعرۍ د مغتنم ديوان او د هندوستان د اترپردېش ايالت د عليګړ پوهنتون (عليګړهـ مسليم يونيورسيټي) په کتابتون کي د هغه دبل ارزښتناک عرفاني او تاريخي اثر(حالنامي) خطي نسخي تر ګوتو سوې .

د ترلاسه سوو مالوماتو له مخي، علي محمد مُخلِص د ابابکر (ابوبکر) کندهاري زوی، د عثمان کاسي لمسی او د دادک کړوسی دئ، چي پلار او نيکه يي د کندهار د « شال ۱» په سيمه کي اوسېدل؛ او د کاسي پښتنو

د شینوارو په قبیله پوري اړه لري . نیکه او نور مشران یې په «شال» کي، د پیر روښان د عرفاني طریقت د مشهور خلیفه (مودود ترین سرهندي) پر لاس د دغي عرفاني لاري خواخوږي مریدان وه.

د علي محمد مُخلِص پلار (ابوبکر کندهاری) او اکا (یوسف)، په ځوانی کي د سوداګری په چارو بوخت وه . سوکاله او ارام ژوند یې لاره؛ خو د پښتونخوا په غرو او ډاګو کي یې د پیر روښان د زړور او غښتلي زوی (جلال الدین) د عرفاني شهرت او د هغه په مشری د پښتنو د خپلواکۍ بخښوونکی مغولي ضد غورځنګ په اورېدو سره، د سوداګری چاري تل تر تله پرېښودي؛ او دواړه له هغه اتل غورځنګ سره د یو ځای کېدو په مقصد، د روښاني غورځنګ مرکز( تیراه) ته روان سوه .

د علي محمد مُخلِص اکا (یوسف) اووه کاله د قلندرانو په شان د جلال الدین خدمت وکړ؛ او تر مړیني وروسته د پیر روښان کورنۍ ته دخپل ژور درناوي او اخلاص له امله، د جلال الدین په امر د هغه په خپله پلرنۍ هدیره کي ښخ سو . د روښاني غورځنګ په لیکو کي د ابوبکر او یوسف کندهاري فعال ګډون، د «شال» او شاوخوا سیمو نور پښتانه ځوانان دې ته وهڅول، چي د سوداګری، کرني او مالداری په پرېښوولو سره، د روښاني غورځنګ په اتلوالو لیکو کي ودرېږي .

د علي محمد مُخلِص پلار دجلال الدین تر شهادت وروسته، د پیر روښان د لمسي (احداد بن شېخ عمر) د عرفاني او سیاسي زعامت په وخت کي، په خپلي بې ساري مړاني او اتلوالی سره، د روښاني غورځنګ د ټولو جنګیالیو پوځو عمومي مشري تر لاسه کړه . له تاړاکګرو مغولي لښکرو سره یې نه سترې کېدونکي او نه هېرېدونکي جګړې وکړې . د خیبر، تیراه او ځینو نورو پښتني سیمودښتونه او درې یې د مغولي لښکرو په هدیرو واړولې. د پیاوړي او مُدبر قومندان (ابوبکر کندهاري) درانه نامه نه یوازي د کابل او پېښور؛ بلکي د لاهور او اګرې د مغولي واکدارانو پر زړونو هم سختي زلزلي جوړي کړي وې . د «حالنامي» په شهادت ابوبکر کندهاري، حتا د هغه مهال د ګورګاني پاچا (سلیم الدین جهانګیر) په حضور کي هم، د پښتونخوا په غرو او دښتو کي له یرغلګرو مغولي لښکرو سره، د خپلو اتلوالو جګړو او حماسو کیسي په ډېري سرلوړی او افغاني غرور سره یادولې .

د علي محمد مُخلِص د زوکړي دقیقه نېټه او ځای ځایګی مالوم نه دئ؛ خود ده په «حالنامه» نومي کتاب کي د راغلي روایت له مخي، یوازي دونه پوهېږو، چي ابابکر کندهاري د احداد تر واکمنی (۱۰۱۲ هـ ق) څوکاله وروسته د فرید خان دولت زي خدایادخېل د زوی (درویش دادو) له دوهمي لور سره واده وکړ. علي محمد مُخلِص، د پلار و مور دوهم زوی ؤ، چي په خپل مشر ورور (خواجه محمد) پسي پیدا سو. د مُخلِص مورنی نیکه (درویش دادو) د پیر روښان له لومړنیو او مشهور و خلیفه ګانو څخه ؤ، چي د تیراه د «مستورې» په غرنۍ سیمه کي اوسېدئ . د «حالنامي» دغو تاریخي ټکو ته په پام سره، د علي محمد مُخلِص د زوکړي نېټه (۱۰۱۲هـ ق) جمع څو کاله ده، چي دا څوکاله ښایي له څلرو - - پینځو کالو څخه نیولي بیا تر اتو - نوکالو پوري یې (وي) .

په دې توګه، د علي محمد مُخلِص د زوکېدو نېټه د (۱۰۲۰هـ ق)کال په شاوخوا کي اټکل کېدای سي . که دا اټکل سم و خېژي، بیا نو زموږ فاضل او عارف شاعر ، علي محمد مُخلِص، د پښتو د توري او قلم د لوی اتل، خوشال خان خټک، همزولی بلل کیږي، چي په (۱۰۲۲ هـ ق) کي زېږېدلئ دئ .

د علي محمد مُخلِص د زېږنځي او لومړني پالنځي په اړه هم څه باوري مالومات په لاس کي نسته . په «تېراه» کي د روښاني غورځنګ پوځي او ملکي تأسیساتو ته نیژدې غرنی سیمه، د مُخلِص د مورني نیکه (درویش دادو) د استوګني کلی (مستوره) یا د ابوبکر کندهاري خپل پلرنی ټاټوبی (د کندهار د شال سیمه) دهغو

ځایوپه ډله کي د یادولو وړ دي، چي ښایي زموږ عارف شاعر هوری دنیا ته سترګي غړولي يي. علي محمد مُخلِص، هغه مهال د پښتونخوا په جګو غرو او پراخو دښتو کي له ژوند کولو سره مخه ښه وکړه، چي د روښاني غورځنګ د مشر(احداد) او د جلال الدین د زوی (الهداد۲) تر منځ کورني او سیاسي اختلافونه پیدا سوه . د دې بدمرغوشخړو او اختلافو په وجه، الهداد په پای کي د هند له ګورګاني پاچا (نورالدین جهانګیر) سره روغه جوړه وکړه؛ او د علي محمد مُخلِص پلار (ابوبکر کندهاري)، اسماعیل کندهاري، د پښتو د لوړ او نومیالي عرفاني شاعر- میرزا خان اورمړ(انصاري) او ځیني نورو روښانیانو په ملګرتوب هندوستان ته ولاړ؛ او په دې ډول د ګورګاني غاصبانو پر ضد د پښتنو په مړني او نه ماتېدونکي غورځنګ کي، لوی درز پیدا سو. همدې نفاق اوشقاق څو کاله وروسته، د پښتونخوا په غرو او ډاګو کي، د مغولي تاړاکګرو په وړاندي د روښانیانو د پر شانه تلونکي توریالي مقاومت ریښې هم له بېخه پرې کړې؛ او په دې ډول د علي محمد مُخلِص د پلرنی کورنۍ په ګډون، ټولو پردېسو روښانیانو هم د کندهار او پښتونخوا په خپلواکو سردرو او لمنو کي د بیا استوګي خواږه خوبونه ګور ته یووړه .

د هندوستان د هغه مهال مغولي ټولواک ( جهانګیر) د نورو ورغلو روښاني مشرانو په ډله کي، د علي محمد مُخلِص د پلار( ابوبکر کندهاري) هوښیاری او زړورتیا ته په ډېره درنه سترګه وکتل . د درناوي او صمیمیت په بڼه به يي له هغه سره په افغاني یا پښتو ژبه خبري کولي . ابوبکر کندهاری که څه هم د هندوستان په مغولي دربارکي، د ځینو سیالو واکمنانوله مخالفتو سره سره ، په پای کي د اوړیسي ایالت د «میدني پور» د پوځي مشرتوب مقام ته ورسېد؛ خو زړه یي تل د پښتونخوا په جګو غرو او سپېرو دښتو کي د روښاني غورځنګ د زړورو جنګیالو په یاد ټپېدئ . د «حالنامې» د روایت له مخي یي په (۱۰۳۴ هـ ق) کال د اتل احداد د شهادت په اروېدو سره تر نس ویني جاري سوې؛ او څه موده وروسته د همدې ناروغی په سَوَب په « میدني پور » کي و مړ.

د علي محمد مُخلِص پلار (ابوبکر کندهاری) غښتلی، زړه ور، پوه ، هوښیار، متقي او پرهېزګار سړی ؤ. د پیر روښان کورنی ته یي د خپل سپېڅلي اخلاص او پیرزویني له امله د یارانو په منځ کي د «ابوبکر صدیق» لقب ترلاسه کړی ؤ . ټول عمر يي په سرښندني او مېړنتوب سره د پیر روښان د کورنۍ خدمت وکړ . هغه په هندوستان کي، له پښتو شاعری سره مینه پیدا کړه؛ او د «مراة العارفین» په نامه یي د پښتو قصیدو او څلوریځو د یوان جوړ کړ . په «حالنامه» کي د ابوبکر کندهاري د یوه بل منظوم پښتو اثر (سراج العارفین) یادونه هم سوې ده، چي په یوه قصیده کي يي له مخالفینو سره، د احداد په مشرۍ د روښاني مبارزینو دیوې خونړۍ جګړي بیان هم راغلیء دئ . د حالنامي له روایت سره سم، ابوبکر کندهاري د پښتو او پارسي ادب ترڅنګ، په اسلامي علومو کي هم مطالعي وکړې ؛ او په هندي ژبه هم پوهېدئ .

د علي محمد مُخلِص ورور ( خواجه محمد) هم د لوړ شعري ذوق په لرو سره، د پیر روښان په عرفاني سیر او سلوک کي، د سکونت لوړ مقام ته رسېدلیء عارف ؤ . مُخلِص په «حالنامه» کي د خواجه محمد د عرفاني شخصیت پر ځینو ځانګړتیاوو سربېره ، د هغه د عارفانه کلام ځیني بولګي هم راوړي دي .

لکه څنګه چي لیدل کیږي، علي محمد مُخلِص له خپل پیدایښت څخه د ژوند تر ورستېیو ورځو پوري، په یوه علمي او عرفاني چاپېریال کي ژوند کاوه . په «حالنامه» کي د مُخلِص د خپلي وینا له مخي، هغه په پینځه کلنی یا شپږ کلنی کي د سپېڅلي قرآن او دیني علومو په زده کړه پیل وکړ. د مُخلِص پښتو او پارسي عرفاني شاعري، په قرآني علومو، نبوي احادیثو او اسلامي عرفان کي، د هغه د لوی لاس او لوړ مقام څرګند ثبوت دئ.

په «حالنامه» کي، دهغه له ځينو ماخذو او سرچينو څخه په ډاګه ښکاري، چي علي محمد مُخلِص د پير روښان او نورو روښاني مخکښانو پر عرفاني او اد بي آثارو سربېره، د اسلامي عرفان او پاړسي عرفاني ادب له ډېرو زياتو کتابو او اثارو سره پوره اشنايي لرله . دغه راز، د علي محمد مُخلِص په ژور عارفانه کلام کي د کلاسيکو او نابابه پاړسي، عربي، سنسکريت، هندي، پنجابي او تورکي (ترکي) ټکو پراخ استعمال، په دغو ژبو کي د هغه د لوړ اد بي او علمي صلاحيت، بله څرګنده نخښه ده .

د حالنامي د بياناتو پر بنسټ، علي محمد مُخلِص، عالِم او فاضل، فقير او عارف شخصيت ؤ، چي هيڅکله يي د مادي او نفساني غوښتنو په خاطر، د پاچا او وزير نوکرئ ته غاړه نه وه ايښي . مُخلِص، د ژوري عرفاني پوهي ترمونډلو او د روښاني سېر او سلوک د اتو مقامونو تر بريالي تېرولو وروسته، د همدې عرفاني طريقت د خلافت پر ګدئ ناست شاعر او عالِم ؤ . هغه د خپل کامل پير(بايزيد روښان) له کورنئ سره د زړه له کومي مينه او اخلاص لاره؛ د تقوا او استغنا ژوند ته يي په لوړه سترګه کتل؛ او تل يي د فراغت او جمعيت په تر لاسه کولو سره، د لوئ څښتن په سپېڅلي مينه کي شعرونه ويل؛ او ليکني وځېړني يي کولې . په «حالنامه» کي د ده د ژوندانه له لوړو او ژورو څخه له ورايه ښکاري، چي علي محمد مُخلِص د دې نامرادي نړئ هيڅ مراد ته په زړه کي ځاى نه ؤ ورکړئ . د خپلي عرفاني بشپړتيا په اوږده مزل کي يي د دونيا او عقبا ټولو ښو او ښادييوته، د پردو، خندو، اپتو او بلاوو په څېر کتلي دي . ښايي په ژوندانه کي يي له شان او شوکت، مقام او شهرت څخه د خپلي ژوري کرکي په وجه، د خپلو آثارو له خپرولو ډډه کړې يي .

مُخلِص، د خپل ژوندانه ډېر کلونه د پير روښان د مُدبر او کارپوه لمسي - الهداد (نواب رشيد خان) په خدمت کي تېرکړي دي، چي د پراخ کورني واک په لرلو سره، د هندوستان د مغولي پاچهانو جهانګير (۱۰۱۴ هـ ق/ ۱۶۰۵م - ۱۰۳۷ هـ ق/ ۱۶۲۸م) ، شاه جهان (۱۰۳۷ هـ ق/ ۱۶۲۸م - ۱۰۶۸ هـ ق/ ۱۶۵۸م) او اورنګزېب (۱۰۶۸ هـ ق/ ۱۶۶۸ - ۱۱۱۸هـ ق/ ۱۷۰۷م) د پا چهييو په زمانه کي د هندوستان د ځينو سيمو او ايالتو اداري واکمن ؤ . علي محمد مُخلِص په «حالنامه» کي د هغه د پېرزوينو، مهربانييو، پوهي، هوښيارئ، زړورتوب ، انصاف او نورو لوړو خويو په اړه خوږې کيسي راوړي دي . مُخلِص د خپل ارزښتناک عرفاني او تاريخي اثر (حالنامي) په ليکلو کي هم، د يوه الهام په بڼه د الهداد (نواب رشيد خان) غوښتني ته اشاره کړې ده. مُخلِص، ميرزا خان اورمړ ' انصاري' (په ۱۰۴۰ هـ ق کال، د دکن په جنګ کي شهيد) د داسي مبتکر او مفکر استاد په توګه ياد کړئ دئ، چي د ذات پېژندني او توحيد پوهني په زده کړه کي يي، له هغه څخه پراخه استفاده او استفاضه کړې ده . مُخلِص په «حالنامه» کي د ميرزا خان د پوهي، هوښيارئ، مراني، او درويشى په باب ارزښمتن بيانونه لري . دغه راز، مُخلِص په خپل پښتو ديوان کي، د روښاني طريقت خليفه او مشهورعرفاني شاعر - دولت لواني[۳]( تر ۱۰۶۹ هـ ق کال پوري په تقيني توګه ژوندى) ته د «ولي» خطاب کړئ دئ؛ او د هغه په خبرو اترو يي وياړ او خوښي څرګنده کړې ده .

په خواشينئ سره، مُخلِص په خپلو آثارو کي د کورني ژوند او اولادو په باب هيڅ يادونه نه کړې . د «حالنامي» له روايتو څخه داسي ښکاري، چي علي محمد مُخلِص د خپل ژوندانه وروستي کلونه په «رشيد آباد» کي تېرکړي يي؛ ځکه په «رشيد آباد» کي، د نواب رشيد خان تر ښخولو وروسته، زياتره روښاني پېښتانه د هندوستان له بېلابېلو سيمو څخه خپلي لومړنئ مېني «رشيد آباد» ته ستانه سوه . . . د علي محمد مُخلِص ژوند د «حالنامي» په اِستِناد تر (۱۰۶۹ هـ ق) کال پوري باوري دئ . تردې نېټي وروسته داسي دقيق او مؤثق مالومات په لاس کي نسته، چي د مُخلِص د ژوندانه څه ثبوت وړاندي کړي . د قبر او مزار په هکله يي هم بې

حدس او گومانه، څه باوري څرک نه لګیږي . پلار یي د ده له خپله بیان سره سم، د اوړیسي په «میدني پور» کي ښخ سوی ؤ. پلرنی کورنی یي د پلار تر مړیني پوري په همدې «میدني پور» کي اوسېده . له همدې امله گومان کیږي، چي د ده مزار به هم په «رشید آباد» یا «میدني پو ر» کي یي (الله تعالی ښه پو هیږي).

د اوسنیو مالوماتو له مخي، د علي محمد مُخلِص دغه آثار تر لاسه سوي دي :

١- د پښتو شعرونو د یوان :

د علي محمد مُخلِص د پښتو شعرو دیوان، چي د قرآني آیتو، نبوي حدیثو، د روښاني طریقت د عرفاني نړی لید او نورو ژورو عرفاني مسألو په بیان او تفسیرکي ویل سوئ دئ . دا دیوان د اسلامي تصوف اوعرفان، په تېره بیا د پښتو د عرفاني ادب ډېره ارزښتناکه او په زړه پوري خزانه ده . دا ښکلي او نفیسه نسخه په ( ۴۰۴) مخو کي په پاخه نستعلیق خط لیکل سوې ده . د دې د یوان یوازنی خطي نسخه اوس د انګلستان د بریټش کتابتون د آسیایي او افریقایي څېړنو په څانګه **کي په** OR 6756 لمبر **خوندي** ده . په دې ښایسته او په زړه پوري نسخه کي، د ناسخ د پېژندګلوی ؛ او د استنساخ د نېټي په هکله هیڅ څرک نه تر سترګو کیږي . د کتابخاني د مسوولینو له خوا د دیوان پر یوه څنډه، یوازي دونه کښل سوي دي، چي نسخه په ( ١٩٠٩ع) کال و بریټش میوزیم ته راوړل سوې ده .

٢- حالنامه :

دا عرفاني او تاریخي کتاب اصلاً د «حالنامي» په نامه د بایزید روښان اورمړ ' انصاري' ( ٩٣١- ٩٨٠ هـ ق) د هغه اثر پر بنسټ کښل سوئ دئ، چي د پیر روښان د ژوند، عرفاني ښپړتیا او د هغه د ویاړلو مغولي ضد مبارزو ځیني پیښي او اړخونه بیانوي . علي محمد مُخلِص، وروسته د ا اثر له خپلو تحلیلو او څېړنو سره، په خپله ژبه له سره وکیښ؛ او د خپل کامل پیر (بایزید روښان) پر ژوند، عرفاني نړی لید او مبارز سرښیره یي د هغه د زامنو، لمسیانو، کړوسیانو او کودیانو د ژوند ښلابېل حالات هم ور سره یو ځای کړه . « حالنامه » په ډېر خواږه او روان پارسي نثر کښل سوې ده، چي د خپل وخت له خورا ارزښتناکو ادبي متنو څخه شمېرل کیږي . علي محمد مُخلِص د ځینو نورو لیکوالو او مؤرخانو په دود، په « حالنامه » کي د بیان سوو تاریخي او عرفاني موضوعاتو په ترڅ کي، ځای ځای د غزلو، مثنوي ګانو، قطعو او بیتو په بڼه، خپل پارسي شعرونه او کله کله هم د نورو عرفاني مخکښانو ځیني بیتونه هم راوړي دي . دغه راز، مُخلِص په « حالنامه » کي د معتبرو اسلامي او عرفاني آثارو په اِستِناد، د اسلامي تصوف او عرفان د ډېر پېچلو او باریکو مسألو په باره کي هم خورا پخي او ژوري خبري کړي دي .

په دې اثر کي، د مغولي واکمنانو پر ضد د روښانیانو د اوږدو او نه ستړي کېدونکو مبارزو، د پښتنو د اد بي ، فرهنګي او عرفاني شخصیتو د ژوند او آثارو، د هندوستان د مغولي واکمنانو د پاچهیو په اوږدو کي د پښتنو د ژوندانه د ارزښتناکو تاریخي او سیاسي حقایقو او په پای کي د لیکوال د علمي او عرفاني کورنی په باب، په زړه پوري مالومات وړاندي سوي دي . « حالنامه » د پښتنود فرهنګي، اجتماعي او سیاسي ژوندانه د یوې مهمي دورې په باب خورا په زړه پوري او باوري تاریخ دئ . د « حالنامي » لیکنه تر ( ١٠٥٨ هـ ق) کال وروسته پیل سوې؛ او تر ( ١٠٦٩ هـ ق) کال پوري بشپړه سوې ده . د حالنامي اصلي خطي نسخه ( ٥٢٦) مخونه لري، چي د هندوستان د اترپردېش ایالت، د علیګړهـ د مُسلم یونیورسیټی د ابوالکلام آزاد د کتابخاني په سبحانه الله کلکسیون کي خوندي ده[۴] . د دې خطي نسخي نقلونه، د پاکستان په پنجاب یونیورسیټی او د پېښور په پښتو اکاډیمی کي هم خوندي دي . زما اوسنی ماخذ یا د افغانستان د علومو اکاډیمی کستتنري نقل هم د علیګړ

پوهنتون د خطي نسخي له مخي برابر سوئ دئ، چي په خواشينی سره له خورا ډېرو تېروتنو ډک دئ؛ او په اکاډيميکه بڼه جدي او دقيق سمون ته اړتيا لري . په دې ورستيبو وختو کي د هيواد د پاخه ليکوال او سترګه ور څېړونکي - استاد محمد معصوم هوتک په حواله خبر سوم ، چي د جلال الدين اکبر له زماني څخه د اورنګزېب د پاچهی ترکلو پوري د پښتنو د عرفاني، ادبي ، اجتماعي او سياسي ژوندانه په باره کي دا مستند او باوري کتاب، په ۱۳۸۸ ش/ ۲۰۰۹ع کال، د افغانستان د اطلاعاتواو فرهنګ وزارت له خوا، د ښاغلي فضل الرحمان فاضل له ځينو حاشيو سره، چاپ سوئ دئ . هيله من يم، چي دا پلا د پخواني ګستنتري چاپ د پرېمانه او سربداله کوونکو تېروتنو سمولو ته تينګ پام سوي يي .

ادامه لری